**مطبوعاتي اعلاميه**

**دا یو واحد امت دی، له همدې امله د روژې سپېڅلې میاشت یې باید په یوه ورځ پیل شي**

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

**«صوموا لرؤيته وأفطروا لرؤيته، فإن غُبِّيَ عليكم فأكملوا عدّة شعبان ثلاثين»**

(البخاري)

***ژباړه:*** *کله چې میاشت ښکاره شي روژه ونیسئ او کله چې میاشت ښکاره شي روژه ماته کړئ.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولو مسلمانانو ته امر کړی، کله چې میاشت ښکاره شي ټول په یوه ځل فرض روژه ونیسئ. ابن عباس رضی الله عنه روایت کوي:

**جَاءَ أَعْرَابِيٌّ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: إِنِّي رَأَيْتُ الْهِلَالَ - يَعْنِي هِلَالَ رَمَضَانَ -، فَقَالَ :«أَتَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ؟ «قَالَ: نَعَمْ، قَالَ» :أَتَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ؟ «قَالَ: نَعَمْ، قَالَ» :يَا بِلَالُ أَذِّنْ فِي النَّاسِ أَنْ يَصُومُوا غَدًا»**

(الحكيم)

***ژباړه:*** *یو کوچی رسول صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: ما د روژې میاشت ولیدله. رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ایا شاهدي ورکوې چې له الله سبحانه وتعالی پرته بل څوک د عبادت وړ نه دی؟ ویې ویل: هو. رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وویل: ایا شاهدي ورکوې چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د الله رسول دی؟ ویې ویل: هو. وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: بلال! خلکو ته ووایه چې سبا روژه ونیسي.*

له همدې امله زموږ په سپېڅلي دین کې راغلي، چې د یو مسلمان لخوا د میاشتې لیدل هغه که د نړۍ په هره برخه کې وي، یوازې په نوموړي پورې نه، بلکې په ټول امت پورې اړه لري. دا سمه نه ده چې د روژې د پیل وخت

د لمانځه په څېر وګڼل شي، ځکه دا دوه بېلابېل حکمونه دي. د یوې سیمې د لمانځه وخت له بلې سیمې سره توپیر لري، ځکه دا په یادو سیمو کې د لمر له موقعیت سره سم ټاکل کېږي. روژه بیا د دې پرخلاف په ټولو سیمو پورې تړاو لري، یعنې په هره سیمه کې چې میاشت ولیدل شي، پر ټول اسلامي امت باندې روژه فرض کېږي.

**اې د پاکستان مسلمانو علماوو!** د خلافت په نشت کې چې زموږ د یووالي اساسي لامل و، اوسني چارواکي د میاشتې په لیدلو کې بې پروایي کوي او زموږ تر منځ نفاق ته لمن وهي؛ په داسې حال کې چې موږ د یوې روژې په خوړلو او یا هم د اختر په ورځ د روژې په نیولو له لویې ګناه سره مخ کېږو. د اسلامي خلافت تر بېرته راتلو پورې په اسلامي نړۍ کې ټول مسلمانان له اندونزیا نیولې تر مراکش پورې د خلافت له دعوتګرو ربښتینی ملاتړ وکړئ. د دې تر څنګ راځئ د ۲۰۱۹م کال د می له ۵مې څخه وروسته چې د ۱۴۴۰هـ.ق کال د شعبان له ۲۹مې سره سمون لري، یو باوري رپوټ د واټ ساپ (+90-531-814-7385) او یا هم برېښنالیک (HTmediaPAK@gmail.com) له لارې سره ولېږو.

الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِي أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْآنُ هُدًى لِلنَّاسِ وَبَيِّنَاتٍ مِنْ الْهُدَى وَالْفُرْقَانِ فَمَنْ شَهِدَ مِنْكُمْ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُش....﴾**

[سورة البقره:۱۸۵]

***ژباړه:*** *روژه هغه میاشت ده چې قرآن پکې نازل شوی او قرآن د خلکو لپاره لارښود دی، داسې لارښود چې په څرګنده توګه حق او باطل سره بېلوي. پر چا چې دا میاشت راشي، هغه باید ټوله روژه ونیسي....*

**د حزب التحریر ولایه-پاکستان مطبوعاتي دفتر**